Fighting Hunger Worldwide

# مطبـــوعـــاتی اعـــلامیـــه

۱۲ اپریل ۲۰۱۱ میلادی

## WFP په جلال آباد کې د خوړو د کوپون پروژه پیل کړه

جلال آباد – نړیوال خوراکي پروګرام (**WFP**) په ختيځ افغانستان کې د خوړو د کوپون يوه نوې پروژه پیل کړې چې د زرګونو هغو کسانو سره چې د لوږې سره مخامخ دي مرسته کوی ترڅو د اړتيا وړ خواړه لاس ته راوړي.

**WFP** شاوخوا ۱۵۰۰ کورنيو ته په ختيځ ښار جلال آباد کې د کوپون د ترلاسه کولو د میاشتيني کارتونو ويشل پیل کړل. هر کارت د ۱۲۵۰ افغانيو چې تقريباً ۲۵ ډالر کيږی ارزښت لري، چې کولای شي په ټاکل شويو دکانونو کې يې د خوراکي توکو په مقابل کې تبادله کړي. د هالند دولت د ۷.۲ میلیونو ډالرو په مالی مرستي سره د دغې پروژې ملاتړ کړی.

په افغانستان کې د **WFP** نماینده ښاغلي لويي امبلو (**Louis Imbleau**) وويل "د کوپون کارتونه د **WFP** يوه نوې ارزښتناکه لاره ده ترڅو د افغانستان ښاري بيوزلو سره مرسته وکړي، پداسې حال کې چې ورسره د افغاني ښارونو سيمه ييز اقتصاد پياوړی کوي."

په افغانستان کې د هالند د سفارت شارژ دافير ښاغلي جان والتمنز وويل "د افغانستان په ښاري سيمو کې د ډيرو هغو خلکو چې د خوړو له پلوه نا امنه دي د ژوند د حالت ښه کول يوه اساسی ننګونه ده. د خوړو کوپونونه د ښاري بيوزلو د خودکفا کولو په لوري يو ارزښتناک قدم دی."

**WFP** په هغو سيمو کې د کوپون د کارتونو پروژې پلي کوی چيرته چې په مارکيټونو کې خوراکي توکي په پراخه کچه پيدا کيږي خو هلته بيوزله خلک د دغو توکو د اخيستلو توان نلري.

ګټه اخيستونکو او هټيوالو په يو ډول د کوپون د کارتونو د پروژې تود هرکلی وکړ.

د بيوزلو کورنيو لپاره، د کوپون کارتونه هره مياشت خوړو ته دتضمين شوي لاس رسي په معنی ده. لدې پرته، دغه پروژه دوی ته فرصت ورکوي – البته د لومړي ځل لپاره – ترڅو هغه خواړه وټاکي چې په ښه توګه د دوی د کورنی اړتياوې پوره کوي.

د سيمه ييزو سوداګرو لپاره، د کوپون کارتونه زرګونه هغه نوي اخيستونکي پيدا کوي، چې اکثريت يې تردې وړاندې د دې توان نه درلوده چې د دوی د دوکانونو څخه خواړه راونيسي.

د کوپون د کارتونو د پروژې موخې دادي چې د ښارونو بيوزله کورنيو سره مرسته وکړي په ځانګړې توګه هغو کورنيو باندې پام وکړی چې د کونډو او معيوبو کسانو لخوا يې سرپرستي کيږي. **WFP** په پام

کې لږې تر څو د روان میلادی کال ترپایه نوموړې پروژه د هیواد څلورو نورو ښارونو ته وغزوي او د ۳۰۰۰۰ کورنیو سره په مجموعی توګه د ۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د کوپون د کارتونو مرسته وکړي.

په جلال آباد کې د کوپون د کارتونو د ویشلو پروژه هغه مهال پیل کیږي چې تر دې دمخه دغه ډول پروګرام په ازمایښتي توګه په کابل کې په بریالیتوب سره پلی شوی وو چې تیرکال پای ته ورسیده. **WFP** په پام کې لري چې په راتلونکو میاشتو کې یوځل بیا د کوپون د کارتونو پروګرام په کابل کې عملي کړي، او همدارنګه په روان ۲۰۱۱ کال کې به د کوپون د کارتونو د ویش لړۍ په مزارشریف، هرات، او فیض آباد کې پیل کړي.

په دودیز ډول، د **WFP** فعالیتونه اکثراً د افغانستان په هغو لرو پرتو سیمو کې وو کومې چې د خوړو له پلوه غیرمصئونه وي. د کوپون د کارتونو پروژه د ښاري مصئونیت یو نوی پروګرام دی چې موخه یې په افغاني ښارونو کې د بیوزلو سره مرسته ده څوک کې د خوراکي توکو د نرخونو د لوړوالي په مقابل کې کمزوري وی.

**WFP** د ۱۹۶۳ میلادی کال راهیسي په افغانستان کې کار کوی، او پلان لري چې سږکال د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې شاوخوا ۳.۷ میلیونه خلک تغذیه کړي.

په ۲۰۱۱ کال کې د نورو هیوادونو په ګډون، استرلیا، جاپان، انګلستان او امریکا د وروستیو سخاوتمندانه پانګونو سره سره، **WFP** اوس مهال د هغې مالي سرچینې نیمایي برخه په واک کې لري کومې ته چې سږکال اړتیا لري. **WFP** په افغانستان کې د کال تر پایه نورو ۲۷۹ میلیونو ډالرو ته د خپلو مرستندویه عملیاتو د پرمخ بولو لپاره اړتیا لري.

# # #

**WFP** د نړۍ په کچه یو لوی بشری سازمان دی چې د لوږې پرضد مبارزه کوي. په ۲۰۱۰ کال کې **WFP** په ۷۳ هیوادونو کې د ۹۰ میلیونو څخه زیات وګړي تغذیه کړل.

**WFP** اوس د **RSS** د خدمت په وړاندې کولو سره ژورنالیستان د وروستیو مطبوعاتي اعلامیو، ویډیوګانو او انځورونو په اړه لکه څنګه چې په **WFP.org** کې خپریږي خبر ساتي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره **http://www.wfp.org/rss** وګورئ.

**WFP** په ایټالیا کې د **ISDN** یو ځانګړې لیکه د **WFP** د مامورینو سره د دوه اړخیزو مرکو لپاره لري.

**د لازیاتو معلوماتو لپاره:**
**چالیس مکدونا**، WFP **کابل، موبایل** 116 662 797(0)93+ ، **ایمیل:** Challiss.McDonough@wfp.org
**اسدالله ازهری**، WFP **کابل، موبایل** 190 662 797(0)93+ ، **ایمیل:** Assadullah.Azhari@wfp.org